# د "ويښ زلمي" ملي مترقي نهضت

# وياړلي غړي



## حاجي آغامحمد خان رحماني



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

خدای بخښلی آغامحمد خان (رحماني) د مرحوم حاجي عبدالرحمن زوی د حاجي محمدحسین خان لمسی او په قوم سلیمانخېل دئ. د زوکړي نېټه ئې نه ده معلومه، د زوکړي ځای ئې د کندهار د صافیانو کوڅه ده . دی هم د خپل ورونو په څېر د پلار تر مړیني وروسته د خپل روښانفکره ماما رئیس صاحب موسی خان په علمي کورنی کي روښان آندی روزل سوئ او د شالمار په ښوونځی کي ئې زده کړه کړې ده. مرحوم آغامحمدخان (رحمانی) یو خوش خویه، خنده رویه او د ښو اخلاقو څښتن ؤ. ډېر مېلمه پاله او مجلس رایه شخص ؤ. تل به انډیوالان او ملګري پر راټول وه. خدای بخښلی آغامحمد خان د هیواد د لرغوني او سپېڅلي سیاسي ګوند (ویښ ځلمیان) د ګوند د فعاله غړو څخه ؤ. او د کندهار د ویښ ځلمیانو غونډې به زیاتره دده پرځای یا دده د ورور شېراحمد خان په کور یا د اروښاد مدیرصاحب غلام جیلاني په کور کي جوړېدلې. دی ترهغه وخته چي ویښ ځلمیانو د اروانښاد محمدهاشم میوندوال سره د (مساوات) په ګوند کي ائتلاف وکړ ورسره ملګری ؤ، خو وروسته ځني کندهاري ملګرو لکه (اروانښاد محمدعلم بځرکی، شېراحمدجان، آغامحمد خان، مرحوم مسلم صاحب، مرحوم محمد حسین خان...) د ځینو ملحوظاتو له مخي د (مساوات) له ګوند څخه خپل انشعاب رسماً اعلام کړ-

ښه ډېر وخت وروسته تقریباً ټولو کندهاري ملګرو (مساوات) له ګونده وتل اعلام کړل. مرحوم آغامحمدخان د کمونیستانو د حکومت په دوران کي له بنده څخه تر خوشي کېدو وروسته هندوستان ته مهاجرسو او د عمر پاته برخه ئې په امریکا کي په هجرت کي تېره کړه او هلته وفات او ښخ سو. اروا دې ښاد وي. مرحوم آغامحمد خان د اعلیحضرت محمدظاهرشاه د حکومت په دوران کښی یوه دوره د کندهار د اطاق تجارت د رئیس په توګه کار کړیدئ او ددې وظیفې وروسته د شرکت پښتون د معاون په حیث وظیفه اجرأ کړېده.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017